فرستنده: ش. حمید


اول می 2013

# کارگرته

شعر از اولین جانباختۀ جنبش کمونیستی کشور

زندۀ جاوید سیدال "سخندان "

په پلاس او په انبـــــــــــور دي استثمار پاره پاره کړه
شا به شا به اي کارگــــــره خپل ایمان غیرت ښکاره کړه
مال دي هسي مفت خواران خوري، چه په سر باندي بند نشي
د هدف چه لـــــــــــوري درومه، خو په وينو لژند نشي
ورک له خپله چـــــــــــــاپيريانه طفيلي او بيکاره کړه
شا به شا به اي کارگــــــره خپل ایمان غیرت ښکاره کړه
دا خوږي غوري وعدي چه ارتجـــــــــــاع در کوي تاته
پام کړه، پام کړه غلط نشي کـــــــــوپړي يي کړه ورماته
ته زمري يي خيری دا گيـــــــــــــــــــدړه مکاره کړه
شا به شا به اي کارگــــــره خپل ایمان غیرت ښکاره کړه

په زحمت او زيار ځمکي، راوکـــــــــــاږي سره لعلونه

ستا د مټ په قوت مست دي، ښاماران کـــــــــوي عيشونه

پټک واخله نژدي وار دي، ښاماران تـــــــــري آواره کړه

شا به شا به اي کارگـــــــره خپل ايمان غيرت ښکاره کړه

ستا قوت دشمنۍ هائي دي ، پاخـــــــــــــه ما نه پنچره کړه

دا ملي خائنان واړه په خپل حکـــــــــــــــــــــم غرغره کړه

له فاسدو سر و جوړه په دگــــــــــــــــــــــر کي مناره کړه

شا به شا به اي کارگـــــــره خپل ايمان غيرت ښکاره کړه

پاڅـــــه پاڅـــــه ولي؟ ناشتايي ځانته نوي ژوندون جوړه کړه

د کلو وږي شاهين، د دښته په غـــــــــــــــــوښو موړ کړه

مست سيلاب شه انقلاب شه ارتجــــــــــــــاع په تراره کړه

شا به شا به اي کارگـــــــره خپل ايمان غيرت ښکاره کړه